مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۲/۰۱/۰۲

# غزل

چې اجازه د عبادت به راته راکړي که نه؟
ژوندون د مينې، محبت به راته راکړي که نه؟

ځوک د کاروان، ځوک د ښاروان له وېرې غلي ناست دي
وئيلی نشو قناعت به راته راکړي که نه؟

زخمي، زخمي، پرهر، پرهر، ټوټه، ټوټه شوم ګوره
قيمت د خپل افغانيت به راته راکړي که نه؟

اوس ځنکدن کښې په سلګو يم بس دی مرمه درنه
د مرګ نه مخکښې لږ فرصت به راته راکړي که نه؟

دا سرې لمبې اوس د هجران په پسرلي بلې دي
لاس د دوستۍ او انسانيت به راته راکړي که نه؟

مصطفی پسرلی
01/Jan/2022


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ